SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې یو ځل خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال ۸۵ گڼه پرله پسې (۳۷۲) شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (۲۲)
و۱۳۷۹هـ ش کال د لړم دمیاشتې (۲۸) د ۲۰۰۰ میلادي کال د نوامبر (۱۸)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډېر نژدې دی تقوا (پرهیزگاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د حقوقو پوهنځي د محصلانو د فراغت په وياړ د کابل پوهنتون په اديتوريم کې:

یوه پراخه غونډه جوړه شوه

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د محصلانو د فراغت د شپږ پنځوسمې دورې د فراغت له امله پرون د کابل پوهنتون په اديتوريم کې یوه غونډه جوړه شوه.

په دغې غونډه کې چې د لوړو زده کړو د وزیر محترم قاري دين محمد حنيف او ددغه وزارت د معين محترم مولوي محمد مسلم حقاني، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي معين محترم مولوي رحيم الله زرمتي د عدليې وزارت د معين محترم مولوي جلال الدين شينواري او د کابل پوهنتون د رئیس محترم مولوي پير محمد روحاني په گډون جوړه شوه لومړی د لوړو زده کړو محترم وزیر او ددغه وزارت معین محترم مولوي محمد مسلم حقاني د کابل پوهنتون محترم رئیس او د کابل پوهنتون د محصلانو د چارو مرستیال ... مخ

محفل مشاعره در ولايت کنر برگذار گرديد

به منظور احیا و شاهمندی فرهنگی ملی و اسلامی کشور پریروز محفل بزرگ مشاعره در ریاست اطلاعات و کلتور ولایت کنر برگذار گردید. در آغاز این محفل ادبی محترم مولوی شمس الدین منصور رئیس اطلاعات و کلتور ولایت کنر طی سخنانی از ادبا و فرهنگیان کشور دعوت نمود تا در اشعار و نوشته های شان بیت صلح و برادری را که حراست امارت اسلامی میباشد انعکاس داده و با برداشتن قلم های زرین شان ... دشمنان نظام اسلامی و مردم مسلمان افغانستان ... شعرای ولایت کنر و ننگرهار اشعار شان که روحیه ملی و اسلامی در آن ... نمودند.

محترم معین وزارت خارجه ا.ا.ا در ملاقات با هیئت امریکایی:

هر اقدامی که خلاف دین و کلتور افغانها باشد به ناکامی می انجامد

کمونیستها در غرب علیه امارت اسلامی تبلیغات بی مفهوم را براه انداخته اند

مشکل اساسی افغانها ضعف اقتصاد میباشد

هیئت امریکایی

محترم معین وزارت امور خارجه دیروز در دفتر کارش با هیأت امریکایی شاغلي هیبومن رایتس الاینس وکترین ملاقات نمود.

در این ملاقات ابتدا محترم ملا عبدالرحمن زاهد معین وزارت امور خارجه سفر هیأت را خیر مقدم گفته از حسن نیت و همدردی آنان با مردم افغانستان اظهار سپاس نموده گفت: در سفر اخیری که به امریکا داشتم به وضاحت مشاهده نموده که کمونستان، طرفداران ربانی مشترکاً تبلیغات بی مفهوم را علیه امارت اسلامی در آنجا به راه انداخته اند قابل ذکر است که در رژیم های گذشته که به اثر جنگهای گروهی، همچنان در دوران کمونست ها هزار ها تن از هموطنان ما شهید و شهر کابل به مخروبه تبدیل گردیده و تمام تاسیسات اقتصادي و فرهنگی ما کاملاً تخریب و مورد چور و چپاول قرار گرفت آنها خاموشی اختیار نموده بودند.

موصوف در این ملاقات با اشاره به اعتقادات مذهبي و کلتوري افغانها گفت: هر اقدامي که خلاف دین مبین اسلام و کلتور افغانها باشد در جامعه ما به ناکامي می انجامد چنانچه عامل ... مخ

د غرغښت پله په دوهمه پلي فرقه کې د یوې ستري غونډې په ترځ کې:

د قرآن عظیم الشان ترجمه او تفسیر پیل شول

کابل - باختر:

د قرآن عظیم الشان ترجمه او تفسیر پرون د غرغښت پله په دوهمه پلي فرقه کې د یوې ستري غونډې په ترځ کې پیل شول.

په دغې غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه لومړی د افغان اعلاناتو ... مخ

د کرنې او مالداري وزارت محترم لومړي معین:

له دوو تنو امریکایي سوداگرو سره وکتل

کابل - باختر:

د کرنې او مالداري وزارت لومړي معین پرون له دوو تنو امریکایي سوداگرو سره چې په دې وروستیو وختو کې کابل ته راغلي دي د کرنیز تاسیساتو د بیا جوړولو او رغاونې په ... مخ

د ملي دفاع وزارت د لوژستیک د لوی ریاست منسوبینو:

خپله ۱۵۰۰۰ سی سی وینه د طبي علومو د اکادمۍ د وینو بانک ته ورکړه

وینو ته له اړوناروغانو سره د مرستې په مقصد د ملي د فاع وزارت د لوژستیک د لوی ریاست منسوبینو پرون ... مخ

د مېنې پر خلاف د تغلیه او مبارزې د تحکیمي ... له امله

د کندهار ولایت د کنفرانسونو په تالار کې یوه پراخه غونډه جوړه شوه

کندهار - باختر:

د ماینونو پر خلاف د افغانانو د مبارزې د تحکیمي میاشتې له امله پرون د آی سي بي ال یا د ماین پر خلاف د افغانانو د مبارزې د ... مخ

در ایالت فلوریدای ایالات متحده امریکا:

دعوی قضایی بالای نتیجه انتخابات ریاست جمهوری ادامه دارد

در ایالت فلوریدای ایالات متحده امریکا دعوی قضایی بر سر نتیجه انتخابات ریاست جمهوري ادامه دارد.

ستره محکمه ایالات متحده امریکا باید اکنون تصمیم بگیرد که آیا شمارش آراء با دست ... مخ

د هلمند ولايت د نوزاد ولسوالۍ خلکو د یوې غونډې په ترځ کې:

د کوکنارو د کرکیلې د بندولو په لاره کې خپل تیاري څرگند کړ

د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ خلکو پرون د یوې غونډې په ترځ کې د کوکنارو د کرکیلې د بندولو په لاره کې خپل تیاري څرگند کړ.

په دغې غونډه کې ... مخ

آریانا در گرداب تعزیرات

اگر تعزیرات ادامه پیدا کند شش ماه بعد نخواهیم توانست دیگر عوارض تخنیکي طیارات خویش را مرفوع سازیم

انجنیر علي حسین مرتضی ... ترمیم طیارات آریانا

در حال بحران کنونی این شرکت به ... تعزیرات گرسنه ... که ... آیا تعزیرات سری ... ترمینل میدان هوایی بین المللی کابل ... معلوم میشد ... ساعت ۱۰:۱۰ دقیقه قبل از ظهر را نشان میداد. دهن دروازه ترمینل جمعی از مسافرین دیده میشد که انتظار پرواز هرات را میکشیدند، من همراه محمد یوسف ... فضله ... داخل ترمینل شدیم ...

JCRC ... WFP, MSF, WHO, UNH ... CR ...

مخ ۲

به خاطر جنگ ویتنام معذرت خواهد خواست

بگزارش رادیو بی بی سي بل کلنتن رئیس جمهور امریکا گفت: میخواهد در دوران سفرش به ویتنام بخاطر جنگ ویتنام معذرت خواهد خواست.

بل کلنتن رئیس جمهور ایالات متحده امریکا ... مخ

درقبال ربایندگان طیاره آریانا:

عنقریب فیصله محکمه لندن اعلان میگردد

شریعت کابل:

یک هیئت ۲ نفری ازعمله پرواز طیاره قبلا ربوده شده شرکت آریانا به لندن که حسب مطالبه رسمي محکمه بریتانیا عازم لندن گردیده، مخ

سازمان ملل متحد:

نخستین پیمان مبارزه علیه جنایات سازمان یافته را تصویب کرد

به گزارش رادیو صدای المان سازمان ملل متحد نخستین پیمان مبارزه علیه جنایات سازمان یافته در سطح جهانی را تصویب کرد. با تصویب این قوانین کار خارنوالها آسان گردیده و تحویل دهي مظنون هاي ... مخ

سرمقاله

دلوی - ی (ج) په نامه

مخا ... بن ورو ورو د روسانو غبرګ ته ورلوېږي

زمونږ د هېواد په لور لا ډېر د پخوا نه د روسانو لاسونه راغځېدلي او که سړی یې له پیله پلټنه وکړي نو ښایي تر یو سل او شل کاله وړاندې په دې اړه تاریخي اسناد او شواهد پیدا کړي چې په تدریج سره دا لاس وهنه زیاته شوې او بالاخره د یو لوی وسله وال یرغل تر بریده رسېدلې او په نتیجه کې یې د شوروي اتحاد سمه نیمه لس کلنه اشغال ... خو روسانو له دې ټولو رسیدلو زیانونو سره بیا ...

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱توزیع و شکایات: ٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤-۳۸٥ / ۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

هم د خپلو ځانګړو سیاسی او اقتصادی موخو له امله زمونږ په ګران هیواد کی مداخلت نه لاس نه دی اخیستی او لګیا دی هڅه کوی تر څو نه یوازی افغانستان بلکی د منځنی اسیا ټوله سیمه بی ثباته او نا کراره کړی روسان په ډیره سپین سترګی د افغانستان مخالف لوری ته په ملیاردونو افغانی نوټونه چاپوی تر څو د جګړه مارو جیبونه پری ډک او د افغانستان اقتصاد پری تباه کړی . بر سیره پر دی روسان د خپلو پریمانه نظا ی وسایلو د ګودامونو څخه په خلاص مټ مخالفینو ته ډول ډول وسلی، بمونه او خطرناک پرسونل ضد مینونه ورکوی او لا د جنګی افرادو په مسلکی روزنه او د نظامي مشاورینو په برخه کی هم مرستی ورسره کوی . مطلب دا چی روسان ټولي هغه لاري چاري تعقیبوی چی په افغانستان کی د جګړی د اوږدیدو او سولی د مخنیوی لپاره په کاریږی، له بلی خوا مخالفین هم چی د افغانانو د ملی غوښتنو او ارادو خیال نه ساتی او له روسانو سره په جګړه کی د هیواد د ورانو کنډوالو او یو نیم ملیون شهیدانو له قربانی څخه سترګی پټوی په خورا بی همتی او ذلت روسانو ته کچکول نیسی او د افغان ولس د وژلو او ځورولو لپ ه وژونکی وسایل تری راوړی له بده مرغه مخالفین د څو کاله مخکی پیښو نه هم عبرت نه اخلی ، کله چی ببرک کارمل د خپل ځان او ډلی ټپلی د ساتنی لپاره یو نیم لاک روسی وسله وال پوځ راوستلی و یوه لویه تاریخی شرمندګی او بدنامی بی ځان ته وګټله.

په هر صورت مخالفینو اوس په کلکه د روسانو لمن نیولی او د ورځی په تیریدو سره د افغانستان له خلکو بیلیږی او د روسانو په غیږ کی ورلویږی همدا څو روځی مخکی د مخالفینو یو پخوانی قوماندان ښاغلی محمود له مخالفی جبهی څخه راواوښت او د خپلو وسله والو افرادو سره د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شو نوموړی له نړیوالو خبری آژانسونو سره د مرکی په وخت وویل چی د روسانو نظامی مداخله ډیره زیاته شوی او د مخالفی جبهی په لیکو کی یی پردی مشاورین په خپلو سترګو لیدلی نوموړی دا هم وویل چی د څو چورلکو په شمول یو زیات شمیر زغره وال ټانکونه او څو دانۍ بی ام ٤٠ توغندی ویشتونکی دا اوس اوس مخالفینو ته ورکړل شوی چی زمونږ د ځوریدلو خلکو د کورونو په ورانولو کی لګیا دی کارتری اخیستل کیږی . مونږ په داسی حال کی چی د روسانو دغه ناوړه لاس وهنی په کلکه غندو، مخالفینو ته دا هم ور په ګوته کوو چی خوښه کړی لار یی د بری نه بلکی د ماتی او رسوایی لار ده او له روسانو څخه دغه ډول مرستی اخیستل یی له افغان ولس سره لویه تاریخی جفا ده .

مخالفین باید د ملت ارادی او غوښتنو ته غاړه کیږدی او د افغانستان له اسلامی امارت سره دروغی جوړی په خپلولو سره نور ددی کړیدلی ولس بدمرغیو ته د پای ټکی کیږدی.

دتاریخی آثاروساتنه زمونږلویه ملی ذمه واری ده

فاروق

دا یو حقیقت دی چی زمونږګران هیواد ډیرلرغونی تاریخ اوکلتورلری ،په دی مانا چی دلته لاډیر دپخوازمانی راهیسی بیلابیلی واکمنی موجودی وی ،ډیروفاتحینوله دی ځایه خپل برغلونه پیل کړی اوشاوخوا ډیری سیمی یی لاندی کړی دی همدارنګه نورونړی والو یرغل ګروهم په دی خاوره تاړاکونه کړی اوبیاله دی ځایه سرماتی بیرته تښتیدلی دی،نوپه دی اساس زمونږ هیواد دمختلفو تمدنونوسره اشناشوی اوډول ډول لرغونی آثاریی په خپل زړه کی ساتلی چی له بده مرغه دروسی یرغل په نتیجه کی دراپیښوستونزوله امله ډیرزیانونه هم ورته رسیدلی .خوپه دی لړکی ترټولو زیات تاوان هغو تاریخی شتمنیو ته رسیدلی چی تردیره بریده په خپله دافغانانوپه تاریخ پوری اړه لری اوهغه څه چی دافغانانودویاړونو اوسمی پیژندګلوی ارزښتناکی بیلګی بلل کیږی .اوله همدی ځایه سری ته داګومان پیداکیږی چی ښایی دکوم ځانګړی عداوت له کبله دغه افغانی آثارله منځه وړل شوی وی مثلا په کابل کی ملی موزیم ترټولو زیات تاوانی اوپه زرګونو لرغونی آثار یی لوټ اوتخریب شول .په یوصمهی ځل زمونږ په هیواد کی ځینی لرغونی آثار،خطی نسخی ،ځینی حربی وسایل ،زینتی شیان اونور دکابل په باغ بالا کی چی غالبا «۱۲۹۷»هـ ش کال یه ؤ ،دساتنی اونندارې په نیت وساتل شول . وروسته بیا نوموړی شیان دارالامان ته انتقال اولابنه منظم کړی شول چی په دی هکله دځو تنو فرانسوی مسلکی پوهانوڅخه هم کار واخیستل شو.دوخت په تیریدوچی بیا دایتالیی ،امریکی ،جاپان ، انګلستان اونورو هیوادو دپوهانوله خوا بوڅه کیندنی وشوی نوبیوزیات شمیر لرغونی آثار په ملی موزیم کی خوندی کړی شول چی ډیرښه تاریخی ارزښت یی درلود .په دی ډله کی یوه زیاته اندازه پخوانی سکی چی زیاتره یی فلزی پیسی وی اوتر «٤۰۰»ق م پوری یی لرغون توب رسیده ،هم ساتل شوی وی همدارنګه نور ډیر قیمتی اوارزښتمن شیان چی نړدی ترسلو زرو پوری یی شمار رسیدلی ؤ ،ټول دکابل په ملی موزیم کی خوندی ؤ خودجنګ جګړو په دوره کی په ډ یره بی دردی له منځه ولاړل .په همدی ډول زمونږدمعاصرتاریخ یوه بله ښه کلتوری اوثقافتی خزانه «ملی آرشیف» دی چی زمونږدهیوادډیرزیات تاریخی اسناد ،خطی نسخی ،عکسونه ، دمیناتوری اونقاشی بیلګی اونور ډیرڅه پکی ساتل شوی دی . وایی [illegible] په هر وزارت خپل اړوند سندونه په ځانګړوخونو کی ساتل خو بیا د داؤدخان په وخت کی دیوه لوی ملی موزیم بندبناوشوه اوله هری خواډیر ارزښت ناک اسناد ورته راغونډکړی شول چی رسمی پیلبدنه یی په «۱۳٦۰»هـ ش کال ترسره شوه . لکه چی معلومه ده دجګړی په اورکی زمونږدیرڅه خاوری ایری شول خوله نیکه مرغه ملی آرشیف ته چندان تاوان نه دی رسیدلی ،که څه هم ځوځله دغلا اوچپاو تکل ورته شوی دی .مګر په یاد مو وی چی له تخنیکی اوفنی پلوه جدی ګواښونه ورته متوجه دی اوکه لازمه پاملرنه یی ونه شی ښایی زیاتره شیان یی په خپله له منځه ولاړشی .برسیره پردی په کابل کی یوه بله معاصره فرهنګی اداره هم شته چی «ملی ګالری » ورته وایی .په دی کی دهیواد دنامتو انځورګرانو لکه مرحوم غلام محمد میمنګی اودهغه دشاګردانو یی درکه ښکلی انځورونه ایښودل شوی ؤچی شمیریی ترپنځوسو زیات ؤ .دملی ګالری رسمی افتتاح په کال «۱۳٦۲»هـ ش وه خو څنګه چی دتکړه استادانوپه لاسوجوړی شوی ډیری ښکلی تابلوګانی پکی ایښی وی نود نندارچیانو شمیریی ډیرزیات ؤ له بده مرغه دکابل داړودوړپه زمانه کی دګالری ډیرقیمتی انځورونه هم دوسله والو غلو له خوا پټ کړی شول او وروسته له هغی چی څوځله داکارتکرارشو نوپاتی تابلو ګانی د اطلاعاتو اوکلتور وزارت دودانی په ډیپوکی وساتل شوی چی بیاهم دلوی خدای «ج» په فضل داسلامی امارت دفرهنګی چارواکوپه هلو ځلو د«ملی ګالری» ودانی له نوی سره ترمیم او له جګړه مارو پاتی شوی انځورونه بیرته په منظم ډول پکی خوندی شول چی دادی نن بی نندارچیانوته دروازی خلاصی اومسؤلین یی په ساتنه بوخت دی .داچی تاریخی اولرغونی آثارنورهم ډیراودهیواد په ګوټ ګوټ کی موقعیت لری چی دټولو پیژندګلوی زمونږله زغمه وتلی اونه شوکولای ټولوآثاروته دجنګ له لاسه اوښتی زیانونه وګنوخوپه لنډه توګه مطلبی ټکی دادی چی اوس که هرڅومره آثار پاتی دی ،ساتنه یی داسلامی امارت دچارواکو په غاړه ده ،دایو درونډ امانت دی اولکه چی زمونږنیکونو اومشرانو په ډیرکړاو ساتلی اوتر مونږ یی رارسولی ،مونږهم کلک مسؤلیت لرو چی دخپلونیکونو دلاسودغه نښانی خپلو راتلونکو نسلونوته په خوندی ډول وساتو اوکه فرضاً په دی لړکی موکومه سستی اونیمګړتیاوکړه ،راتلونکی تاریخ به موخدای دی نه کړی حتماګرم اوله خپلوملی شتمنیو سره په غداری تورن کړی .ځکه چی زمونږدولس بشپړه پیژندګلوی ،تاریخی ویاړونه ،دوستی ،دښمنی کلتوراوثقافت ټول دهمدغو آثاروپه مخ او څټ کی ښکل شوی ،چی ددغو شیانو له کتنی اوڅیړنی پرته هیڅوک هم زمونږ دقوم په هکله کوم معلومات اوڅیړنه نه شی وړاندی کولای .

آریانا در گرداب ...

فضاي صحن ترمینل کاملاً آرام به نظر میرسید، پاکي و نظافت تقریباً رضایت بخش بود، اما یگانه چیزیکه از زیبایي این ترمینل کاسته بود، کمبود شیشه هاي چار طرف ترمینل بود.

کارمندان میدان اعم از ترافیك، کارگو، سرویس و ترانزیت همه ملبس با دریشي هاي منظم سیاه و سرمه یی دیده میشدند که ایشان را از مسافرین تفکیك مینمود، ضمناً در دست آمرین هر بخش یکپایه مخابره تاکي واکي به چشم میخورد که اینطرف و آنطرف در گشت و گذار بودند. محمد اسمعیل «ملیار» آمر عمومي میدان میگوید : ما از این مخابره ها غرض جلوگیري از ضیاع وقت و تأمین ارتباط هکاتي بین آمرین شعبات در داخل میدان استفاده میکنیم.

ترانزیت یا محل انتظار مسافرین در داخل ترمینل فاقد بلند گو بود؛ محترم «ملیار» در زمینه اذعان داشت : ما اعلانات آگاهي خویش را براي مسافرین در ترانزیت ترمینل بدون کدام بلند گو یا لودسپیکر بخش میکنیم. در طبقه دوم ترمینل انجنیر توربالي آمر سرویس میدان خدمات ارزنده ستیوردان یا مهمانداران این سرویس را اجمالاً چنین باز گو نمود : همین حالا در بخش پر سرا یا

آموزش دیده اند. ستیوردان ما در پهلوي اینکه مسؤولیت حفظ جان و مال مسافرین را در جریان پرواز در داخل کابین طیاره دارند نظر به اموزش مسلکي که دیده اند در

عبدالخالق «ارغندیوال» یکتن از مهمانداران بخش سرویس میدان در زمینه میگوید : فعلاً مینوي سرویس غذایي مسافرین ما را در پرواز هاي داخلي یك بوتل جوس جم یك قطی بسکت تشکیل میدهد ؛ اما قبلاً در مینوي سرویس غذایي پرواز هاي

تعمیر ترمینل را به نیت جاده پارکینگ طیارات میدان ترك گفتم . محیط جاده پارکنگ طیارات خیلي منظم به نظر میرسید، پاکي و صفایي آن قابل یاد دهاني است. خط رنوي یا خط پروازي میدان که ۳٦۰۰ متر طول و ٤۰ متر عرض دارد درد ل میدان هوایي کابل از زیبایي ویژه یی برخوردار است . پرواز ناگهاني یك فروند طیاره کمیته ICRC همه دیده ها را به یکبارگي به طرف خود کشانید. یکتن از مسوولین میدان که مخابره تاکي واکي بدست داشت گفت : پرواز هاي طیارات خارجي کمیته ICRC و UN و کمپني هوایي پکتیك پیوسته از این رنوي غرض انتقال اتباع خارجي صورت میگیرد و هنوز این طیاره از دیده ها ناپدیده نشده بود که یك فروند طیاره AN-24

ص ۳

نمایي از طیاره د آریانا افغان هوایي شرکت که در شرایط ومنع تعزیرات مصروف پرواز هاي داخلي میباشد عکاسي : یوسف

ستیوردان این سرویس ٤۰ تن مهماندار تحت شرایط خاص در خدمت مسافرین آریانا قرار دارند، مهمانداران ما در مجموع مسلکي بوده و در داخل و خارج از کشور

حالات خاص چون ایمرجنسي (عاجل) مسافرین، سطو اکسیجن در داخل کابین و ... به کمك عندالموقع مسافرین رسیدگي خوب نموده میتوانند.

خارجي مسافرین علاوه از این تعارف نان چاشت مکلف به سیستم بین المللي همراه با ناشتاي صبح نیز محتوي بود.

د اوږده تاریخ بدبختي

عبدالجلیل وجدي

د افغانستان د حالاتو یوبل څیړونکی ارنولد فیلچر هڅه کړی ده چی په افغانستان کی د توماس کارلایل یوی خبری ته مصداق پیدا کړی ده ویلی دی چی «بدبخته ملت هغه دی، چی ډیر اوږد تاریخ لري»

ممکن د امریکی د ملت د کارټونیک او سمبولیک کاکا انکل سام په زړه کی همدغه خبره راتاو شوی چی په خپله نری اوږده ږیره د لاس تیرولو په حالت کی به یی ویلی وی چی شکر دی چی زما وفاداره ملت (د امریکی ملت) د زرګونو کلونو یو بوډا ملت نه بلکی د دوه سوه څو کلونو یو ځوان او ځواکمن موجود دی.

د امریکی د کولمبیا پوهنتون استادانو د تاریخ او سیاسی علومو شاګردانو په غوږونو کی همدغسی یوه خبره څڅولی ده . د مثال په ډول د دغه پوهنتون له پاره په یو لیکل شوی تاریخ کی راغلی دی چی « د امریکی د انقلاب څلورمه نتیجه د داسی یو ملت تخلیق دی چی په منشأ او کرکتیر کی د زړی دنیا څخه مختلف دی له دی څخه داسی څرګندیږی چی امریکایان که د تاریخ نه کوم درس او عبرت اخستل غواړی هغه زموږ د خلکو « د تیر په هیر » مشهوره محاوره ده که نه نو د امریکی تاریخ زموږ د ډیر اوږده تاریخ په څیر له غمجنو ماجراګانو، تهاجماتو، مهاجرتونو، کورنیو جګړو او شخړو څخه ډک دی.

د امریکی اصلی بومی خلک اوس د مهاجمینو او مهاجرینو په لویه ټولنه کی حل شوی او ورک شوی غوندی دی. د امریکی د تعلیمی نصاب او اجتماعیاتو د یو کتاب له مخی د ځینو امریکایی پوهانو نظریه دا ده چی د امریکی بومی اوسیدونکی هم اصلاً هغه مهاجرین دی، چی تقریباً شل زره کلونه د مخه یی له اسیا څخه د امریکی قاری ته مهاجرت پیل کړی دی او د دوی مهاجرت تر لسمی عیسوی پیړی پوری دوام کړی دی.

له پنځو سوو کلونو راهیسی هسپانویانو، فرانسویانو، هالینډیانو، جرمنیانو، سکاټلینډیانو یا ځینو نورو اروپایی قومونو د نوی دنیا (امریکی) په لوری تهاجمات، سیاحتونه او مهاجرتونه پیل کړی دی تورپوستی غریبانان د غلامانو په توګه پیرودل شوی او امریکی ته راوړل شوی دی.

امریکایان هغی لویی پیښی ته چی دا مخالف او مختلف او هک او تیت خلک یی سره د ګډو فیصلو له پاره په جرګه کی کینول انقلاب وایی : دا هماغه انقلاب دی چی په دوی پاندی یی تیر غمونه هیر کړی او له نویو اندیښنو سره یی مخامخ کړی دی.

په مقابل کی یی زموږ اوږد تاریخ چی پیاوړی تمدنونه یی پیدا کړی یا یی سره مخامخ کړی او سپیڅلی تهذیبونه یی پاللی دی هم له ډیرو ښو او بدو خاطراتو څخه ډک دی. موږ نشو کولای چی د تیر تاریخ هر څه هیر کړو خو دا خبره هم سمه نه ده چی د خپل تاریخ هغه ترخی خاطری او اجتماعی پیښی د خپلو سترګو مخی ته نیغی ودرو چی په زړو زخمونو د نویو مالګو د اچولو او یو له بله د افغانی اقوامو د پردی کولو نه پرته بله موخه نه لري.

دلته دا خبره هم د یادونی وړ ده **چی زموږ لرغونی ملت پوازی د ویاړنه ډکو خاطرو ډیر اوږد تاریخ نه لری بلکی د لویو ملی ارادو ډیر لنډ تاریخ هم لری، چی موږ په سیالی کی له امریکایانو څخه د مخه کولای شی امریکایان په خپله خوله وایی چی** افغانان د **ملی انقلاب په راوستلو کی ور څخه قدامت لری د امریکی یو مهم سیاسی شخصیت سپیرو اګنیو کابل ته د خپل راتګ په وخت کی دا خبره کړی وه چی د امریکی بابا(جارج واشنګټن) لا ۱۵ کلن ځوان و چی احمد شاه بابا په افغانستان کی د امریکی انقلاب ته ورته یو انقلاب** راوستلی وو.

زموږ د معاصر تاریخ د وروستنی پیړی یعنی شلمی پیړی تاریخ چی د افغانانو اوسنی نسل یی هم د ډیرو پیښو عینی شاهد دی، له داسی لویو انقلابی پیښو څخه ډک دی، چی د نړی د غټو استعماری او استکباری طاقتونو تر پښو لاندی یی ځمکه لړزولی او اسیایی او افریقایی ملتونو ته یی نوی سا بخښلی ده او د دوی له غاړو او پښو یی د غلامی زنځیرونه غوڅ کړی دی. که یو څه څیر شو او د خپلو تاریخی پیښو له نتیجو او اغیزو څخه سم درس واخلو د شاوخوا د ملتونو پیدایښت او خپلواکی، په دی پیړی کی زموږ د لویو اسلامی جهادونو او ملی مبارزو ضمنی تولیدات دی موږ د همدی پیړی په پیل کی انګریزی استعمار ته په ماتی ورکولو سره د آسیا او افریقا د ملتونو د آزادی غوښتونکو غورځنګونو علمبرداری وکړه او د همدی پیړی په پای کی مو **روسی استعمار چی په سوسیال امپریالیزم هم مشهور شوی و ، له پښو واچاوه چی په نتیجه کی یی د منځنی آسیا پر هیوادونو ټینګی** لګول شوی استعماری منګولی یی سستی اوبی واکه شوی.

زموږ د ۲۵۰ کلونو معاصر تاریخ چی ځینی کسان یی د پردیو **اصطلاحاتو په قالب کی راولی او د همدوی له نظره یی تعبیر وی، په حقیقت کی د ټولو افغانانو حتی د هغو افغانی اقوامو د ګډی ملی ارادی** تاریخ دی چی په افغانستان کی د ډیری اوږدی مودی استوګنی له امله اوس مهاجم یا مهاجر نشی بلل کیدای.

دغه تاریخ د وطن د ټولو اصلی بچیانو یعنی پښتنو، تاجکو، بلوڅانو، هزاره ګانو، ازبکانو، ترکمنانو نورستانیانو او نورو لویو ورو قومونو، قبایلو او عشایرو جوړ کړی دی.

دا خبره صحیح ده چی زموږ ۲۵۰ کلن معاصر تاریخ که د مهمو ویاړونو څخه ډک دی نو لویو غمونو زموږ د ویاړونو ډیرلویی خوشحالی هم غمولی دی او یقیناً یو شمیر پی عدالتیو زموږ د هیواد ټول وروڼه قومونه په جلا جلا توګه او متفاوتو درجو ځورولی دی.

دا لوی غمونه او مصیبتونه خارجی مداخلو او زموږ کورنیو شخړو او جګړو را پیدا کړی دی خو نور ملتونه هم له دغسی مصیبتونو څخه خوندی پاتی شوی نه دی.

خبره به را لنډه کړو اوس که موږ د خپل تاریخ څخه کوم مهم درس اخستلای شو هغه دا دي چی خارجي مداخلو او زموږ کورنیو شخړو زموږ کور وران کړی دی او لا لګیا دی ورانوی یی ، نو په کار دی چی په سره سینه د خپل ملت او خپل هیواد د ورانولو خارجی عوامل او داخلی عمال وپیژنو او له هغوی سره په ګډه مبارزه وکړو.

داصحابو دژوند پلوشي

۳۸

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : یشار

عدی بن حاتم الطایی

دهجرت په نهم کال ـ له تیښتی وروسته چی دعربو د پاچایانو څخه یو پاچا اسلام ته غاړه کیښوده ، اوله مخ ګرځولو او مخنیوی څخه وروسته چی ایمان ته دهغه زړه نرم شو ، اوله ته منلو وروسته چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت یی قبول کړ هغه عدی بن حاتم الطائی دی اودهغه د پلار سخاوت دمثال په توګه یادیږی.

عدی ته ریاست ، له پلاره په میراث پاتی شو اوطی قبیلی هغه خپل پاچاو ټاکه ، اوهغه ته یی دغنایمو څلورمه ومنله ، اوهغه ته یی اوښان ورکړل.

کله چی پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم دهدایت اوحق د دعوت اعلان وکړ اوعربو قبیلو یو په بل پسی ورته غاړی کیښودلی نو عدی دالهی پیغمبر په دعوت کی دزعامت احساس وکړ او په دی سوچ اوهڅه کی شو چی دهغه پرزعامت به غلبه کوی اودهغه ریاست به له منځه وړی .

نوهماغه ؤچی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابل کی یی سخته دښمنی پیل کړه ، اومخکی له دی چی هغه وویښی په زړه کی یی ورته ډیره کینه ونیوله او داسلام په مقابل کی دهغه دښمنی ترشلو کلونو دوام وکړ تردی چی الله تعالی دهغه سینه دهدایت اودحق دعوت ته پرانستله .

دعدی بن حاتم داسلام کیسه نه هیریدونکی کیسه ده .

موږ دغه سری ته وخت ورکوو چی هغه پخپله دخپلی کیسی بیان وکړی ځکه هغه ددی ډیرو او ورته ډیر مناسب دی چی خپله کیسه پخپله وکی .

عدی وایی :

کله چی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرو اوریدی نوما په عربو کی له هیچا څخه دومره زیاته کرکه نکوله کومه چی ما دهغه څخه کوله زه یو شریف سړی او دنصرانیت په دین وم اوپخپل قوم کی دعربو دنورو پاچایانو په شان دغنایمو دڅلورمی برخی داخیستلو دپاره ګرځیدلم .

کله چی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خبر شوم نوله هغه څخه می کرکه پیداشوه اوبیاچی دهغه کار قوت پیدا کړاو دهغه شان لوړ شو اودهغه لبکری اوډلی دعربو په ځمکو کی دختیځ اولویدیځ په لوری بکښته اوپورته شولی نوما خپل مریی ته چی زما اوښان یی څرول وویل : پلاردی مړ شه ، زماله اوښانو څخه یوه تیاره اوښه چی ښول یی اسان وی سمباله کړه اودلته یی نږدی وتړه اوبیا چی کوم وخت تا دمحمد دلښکر اویا دهغه دیوی ډلی په باب څه واوریدل چی زموږ پرهیواد یی یرغل کړی نوماته خبر راکړه .

هماغه ؤچی زما مریی دورځو یوه ورځ د سبا له مخی ماته راغی اوداسی یی وویل:

ای باداره ! هغه څه چی تا غوښتل ـ چی کوم وخت دمحمد اسونه ستا پرځمکی قدمونه کیږدی ـ څه ورسره وکړی نو اوس هماغه وخت دی اوڅه چی غواړی هغه وکړه.

ما وویل: دڅه دپاره ؟ پرتا دی مور بوره شی .

هغه وویل : ما بیرغونه ولیدل چی دهیواد په شاوخوا کی په حرکت کی دی . نوما پوښتنه وکړه چی دغه بیرغونه دچا دی ؟

ماته وویل شول : دغه بیرغونه دمحمد دلښکر ودی . نوما ورته وویل : زما اوښه چی تاته می دهغی دسمبالښت په باب امرکړی ؤ هغه راته نږدی کړه . بیا ژرله ځایه پورته شوم اوخپل اهل او اولاد ته می هغی ځمکی ته چی زما خوښه وه دسفر کولو بلنه ورکړه ، او په ډیری چالاکی می دشام لاره ونیوله څو دخپل دین خلکو (نصرانیانو) ته ورشم اودهغوی په منځ کی واوسم ولی ما دومره وخت ونه موند چی خپله ټوله کورنی راغونډه کړم ، اوبیا چی دخطر له ځایونو څخه تیرشوم نوخپلی کورنی ته می پام شو او بیا راڅرګنده شوه چی ما خپله خور په نجد کی دطی د قبیلی دپاتی کسانو سره پریښی ده اوزه ونه توانیدم چی هغی ته ورستون شم . هماغه ؤ چی دخپلو راسره کسانو سره می خپله لاره ونیوله تردی چی شام ته ورسیدم اودخپل دین د پیروانو په منځ کی می ځای ونیو اوخورته می هغه څه چی ماورڅخه ویره کوله ورسیدل.

زه دشام په هیواد کی وم چی ماته داخبر راورسید چی دمحمد اسونو زموږ پرهیواد یرغل کړی دی اوزما خوریی دنورو بندیانو سره یثرب ته وړی ده اوهلته د مسجد دروازی ته نږدی په یوه ځای کی دنورو بندیانو سره بندی شوی ده . بیا پیغمبر علیه السلام ورته راغی اوهغه ورته ودرید له اوداسی یی ورته وویل :

پاتې لري

آریانا در گرداب ...

آریانا به میدان فرونشست. طیاره حامل مسافرین هرات بود. انجنیر جاوید کارمند موسسه غیر حکومتي AFO و یکتن از مسافرین هرات حین پائین شدن از زینه هاي طیاره در رابطه به تسهیلات سفر خویش درین طیاره چنین اظهار نظر نمود :

پرواز خیلي مستریح بود، برخورد کارمندان آریانا بامن از تکت فروشي گرفته تا عمله سرویس واقعاً قابل ملاحظه بود و باید هم همینطور میبود چرا که این کارمندان همه تعلیم یافته و منور میباشند؛ البته امروز امکاناتیکه آریانا در اختیار دارد نظر به شرایط وطن ما قابل قدر است .

نور محمد کپتان طیاره -AN 24 آریانا حینیکه طیاره اش از پرواز شهر مزار شریف به میدان هوایي کابل فرود میآمد در نخستین دقایق نشست در داخل کابین طیاره از امکانات تخنیکي طیارات -AN 24 آریانا اینگونه یاد دهاني نمود : ما در هر پرواز یك هیئت ۳ نفري تخنیکران را با خود داریم که در صورت بروز کدام عارضه تخنیکي در مسیر پرواز هیئت قادر است تا مشکل عایده را به موقع آسان نماید. و در صورت عدم توانمندي این هیئت ما تماس با کابل گرفته و با مطالبه طیاره جدید از مرکز مشکل طیاره و مسافرین خویش را عندالموقع حل مینمائیم.

در حاشیه شرقي میدان دیدن ورکشاپ حفظ و مراقبت طیارات آریانا که در آن ۳۱۷ کارگر فني مصروف کار اند برایم جالبتر از هر بخش میدان واقع شد. ترمیم و پاك کاري انجن، بدنه، ترمیمات بال هاي طیارات، ترمیمات الکترونیکي و رادیویي طیارات درین ورکشاپ ۵۰٪ قابل ترمیم مي باشد.

انجنیر علي حسین که ۳۳ سال سابقه کار درین ورکشاپ دارد از فقدان پرزه جات جدید درین ورکشاپ چنین حرف میزند : ما در قسمت تورید پرزه جات جدید طیاره ۱۱۰ فیصد مشکلات داریم: اگر تعزیرات بالاي آریانا به همین شدت تداوم پیدا کند بعد از ختم پرواز هاي حجاج این ورکشاپ در بن بست تخنیکي مواجه شده و گفته میتوانیم که ٦ ماه بعد نخواهیم توانست دیگر حادثات تخنیکي طیارات خویش را مرفوع سازیم.

سید نبي « هاشمي » چیف پیلوت آریانا از مشکلات تعلیم و تربیه پیلوتان جوان اینگونه شکایت دارد : امروز نسبت وضع تعزیرات اقتصادي شوراي امنیت ملل متحد بالاي پرواز هاي آریانا این امکان میسر نیست تا تربیه و ترینگ پیلوتان جوان صورت بگیرد : چرا شاگرد در صنف پیلوت نمیشود، ضرورت است تا پرواز صورت بگیرد و از اینکه پرواز هاي بین المللي آریانا بنابر تعزیرات معطل است ما نمیتوانیم دیگر پیلوت جوان تربیه نمائیم.

- آیا این موضوع حقیقت دارد که سال جاري حجاج افغاني را قادري پس ترانسپورت از راه زمیني به سعودي انتقال میدهد ؟

محترم ملا حمید الله رئیس شرکت هوایي آریانا در برابر این پرسش چنین اظهار داشت : چندي قبل ریاست حمل و نقل این موضوع را طور شفاهي با آریانا یاددهاني نمود؛ اما تا حال کدام موافقه رسمي در زمینه صورت نگرفته است. از نظر من تطبیق این امر در سال جاري بعید از امکان بوده و آریانا همانطوریکه امسال براي انتقال ۱۲۰۰۰ حجاج افغاني پروگرام آمادگي گرفته است به یقین میتوانم که تمامي حجاج را به موقع انتقال و آنان را در باره واپس نماید.

مهربان



نمایي از خط پرواز با رنوي میدان هوایي بین المللي کابل . عکاس : یوسف

یوه پراخه غونډه ...

محترم قاری اجمل په وار سره د اسلام د مبین دین له پلوه د علم او پوهی د زده کړی د معنوي ښېګڼو او ارزښتونو او د اسلامی امارت د فرهنګی تګلاری په باره کی خبری وکړی او په ټولنه کی یی د قارغانو وجیبی او مسوولیتونه جوت کړل.

وروسته محترم پوهاند دریغ د استادانو په نمایندګی او محترم عبدالمقدم د محصلانو په نمایندګی خبری وکړی او په پوهنتونونو کی یی د ښوونی او روزنی د حالت د ښه والی او د محصلانو د سالمی روزنی په لاره کی یی د اسلامي امارت د پاملرنه له امله خوښی څرګنده کړه.

د کوکنارو د ...

چی له همدی امله د نوزاد د ولسوال محترم ملا محمد اسلم اخند ددغی ولسوالی د محکمی د رئیس محترم مولوی سخیداد او ددغی سیمی د یو زیات شمیر علمای کرامو او خلکو په ګډون جوړه شوی وه د نوزاد ولسوالی د عالمانو د شورا رئیس محترم مولوی یحیی په هیواد کی د کوکنارو د کرکیلی د بندولو په باب د عالیقدر امیر المومنین فرمان د اړتیا او اهمیت په باب خبری وکړی او تطبیقول یی د افغانستان په ټولو مسلمانو خلکو باندی واجب وبلل.

وروسته محترم حاجی شیر محمد محترم حاجی محمد غوث او محترم حاجی غلام محمد د نورو په نمایندګی خبری وکړی او په خپلو کروندو کی یی د کوکنارو په ځای د نورو ګټورو بوټو د کرلو لپاره خپل تیاری څرګند کړ.

هر اقدامي که خلاف ...

تجرید رژیم گذشته در میان مردم افغانستان وابستگي آن رژیم با روسها و اجانب میباشد.

بعداً خانم کترین ضمن رد تبلیغات سؤ که علیه امارت اسلامي در غرب صورت میگیرد گفت یقیناً غلط فهمي وسیع در رابطه به امارت اسلامي در غرب وجود دارد و تصویر حقیقي امارت اسلامي در کشور هاي غربي بخصوص کشور امریکا انعکاس داده نشده است و ماد ر نظر داریم که اطلاعات دقیق را در رابطه به حالات و اوضاع افغانستان مطابق به مشاهدات خویش تهیه نمائیم.

وي گفت تا جائیکه براي ما روشن است در قدم اول مشکل اساسي مردم افغانستان مسئله اقتصادي بوده که باید در رفع این مشکل اقدام صورت گیرد.

خانم کترین اضافه نمود: این براي ما سوال برانگیز است کسانیکه بیش از بیست سال در کشور هاي غربي و خارج از کشور بوده اند و کوچکترین آگاهي در رابطه به شرایط موجود افغانستان ندارند چطور میتوانند سرنوشت ملت خویشرا تعین نمایند.

د کرني او مالداري...

اړوند وکتل.

په دغی کتنه کی د کرنی او مالداری وزارت لومړی معین محترم مولوی عتیق الله په هیواد کی د کرنی د حالت ښه کیدو د ځړنګوالی او د کرنیزو تاسیساتو د بیا رغاونی او جوړولو په کار کی د بهرنیو موسسو د همکاریو پر مسئلو خبری وکړی. په مقابل کی دوو تنو امریکایی سوداګرو ښاغلی جیمز یحی او میر من کتورین د هغو ځمکو د بیا اباد ولو په اړوند چی په اوس وخت کی په شاړ و ځمکو بدلی شوی دی اوله هغو څخه د ګټی اخیستي د لارو چارو په اړوند خپلی نظریی وړاندی کړی د ننګرهار ولایت په مربوطاتو کی یی د بڼونو د احیا کولو د کرنی د پروژو د جوړولو او د کرنی د ماشین الاتو د برابرولو په برخه کی د هر راز همکاری ژمنه وکړه.

منقریب نیمله ...

بود، هفته گذشته دوباره به کابل بازگشتند. محترم سیدنبي هاشمي چیف پیلوت شرکت آریاناکه در رأس این هیئت قرار داشت جزئیات این سفر را به خبر نگارما چنین توضیحات داد:

یگانه هدف محکمه لندن ازمطالبه هیئت افغاني این بود تا قضات بدانند دولتمردان ا.ا.ا. بعد ازبازگشت طیاره آریانا به کابل درمقابل عمله پرواز ومسافرین چگونه واکنش نشان دارند.

کلیه سوالات قضات محکمه هیئت افغاني برمبناي مصؤنیت وحقوق فردي بازگشت کنندگان میچرخید، قضات محکمه دلچسپي نشان میدادند تابدانند آیا بعد از بازگشت طیاره به کابل کسي تحت تعقیب ویا توقیف امنیتي قرارگرفته است یاخیر؟ که درهرقسمت از جانب هیئت کابل جوابات مقنع ارائه گردید.

وي اضافه داشت: فعلا مقامات دولت بریتانیا به این امر متعقد شده اند که اختطاف این طیاره هیچگونه انگیزه سیاسي درقبال نداشته است. ازجمله ۱٦٥ تن سرنشینان طیاره ۷۰ تن آنان در انګلستان باقي ماندند که فعلا ازجمله ربایندگان ۳ تن زنداني و ٦ تن دیگرتحت تعقیب پولیس قرار دارند. هکذا ٤۰ تن از اعضاي فامیل ربایندگان جمع ۹ نفرمسافر باقي دریکي ازکمپ هاي دور افتاده شهر لندن درانتظاراعلان حکم قطعي محکمه بسرمیبرند.

نامبرده علاوه داشت: تاکنون به هیچ کسي پناهندگي داده نشده وقرار است دربیست ودوم جنوري سال ۲۰۰۱ میلادي محکمه لندن آخرین تصمیم خویش را درقبال این دوسیه اعلام بدارد.

محکمه مصمم است تاقبل از اعلا ن فیصله قطعي دوسیه یکباردیگر تمامي عمله پروازطیاره ربوده شده را ازکابل به قسم گواه رسما دعوت نماید.

د ملي دفاع ...

خپله پنځلس زره سی سی وینه د طبی علومو اکادمی د وینو بانک ته ورکړه.

د وسلو وال پوځ د طبی علومو اکادمی په روغتون کی له بستر ناروغانو سره زموږ د مسلمانانو او خپرپالو هیوادوالو له خوا د وینی د مرستی لړی دوام اری.

د قرآنکریم ...

د رئیس محترم قاری فیض الرحمن له خوا د کلام الله مجید څو مبارک آیتونه ولوستل شول او وروسته د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند او د لوړو زده کړو وزیر محترم قاری دین محمد حنیف د کلام الله مجید د تفسیر او ترجمی د فضیلتونو په باب خبری وکړی.

وروسته د شیخ القران محترم مولوی محمد شریف حقانی له خوا ددغی فرقی منسوبینو ته د قرآن عظیم الشان ترجمه او تفسیر پیل شوه.

په دی غونډه کی د لوړو زده کړو وزارت د اکادمیکی چارو د معاون رئیس محترم مولوی عبدالشکور کامیاب د پوهنی وزارت د پلان رئیس محترم مخدوم غلام الله د دویمی پلی فرقی قوماندان محترم مولوی عبدالغنی او ددغی فرقی درستیزوال محترم ملا عبدالوارث او د بدخشان ولایت یو شمیر جیدو عالمانو ګډون کړی وه.

نخستین پیمان ...

جنایات جنگي تسریع گردیده و امنیت شاهدان بهتر تامین میگردد. [illegible]

د کندهار ولایت ...

ټولنی له خوا د کندهار ولایت د کنفرانسونو په تالار کی یوه غونډه جوړه شوه.

په دی غونډه کی د مخدره موادو پر خلاف د مبارزی د امارتی عالی کمیسیون رئیس محترم ملا عبدالحمید اخند زاده د جنوب لویدیځ زون د پلان رئیس محترم مولوی شیرآغا رشیدی، د کندهار په ولایت کی د بهرنیو چارو وزارت د نمایندګی مسؤل محترم مولوی جان محمد مدنی، د کندهار ولایت د امربالمعروف او نهی عن المنکر رئیس محترم مولوی غلام حیدر حیدری د امارتی ادارو یو شمیر چارواکو او استازو د ملګرو ملتو د سازمان د اړوندو ادارو مسولینو او په کندهار کی د نورو بهرنیو موسسو چارواکو ګډون کړی و.

د غونډی په پیل کی محترم انجنیر ذبیح الله د ماین پر خلاف د افغانانو د مبارزی د ټولنی د تاریخ او په افغانستان کی د ماین پاکولو د پروګرام په باره کی اړوندی خبری وکړی.

وروسته د جنوب لویدیځ زون د پلان رئیس د خبرو په ترڅ کی په افغانستان کی د ماین د بیخی له منځه وړلو له پروګرام سره د افغانستان د اسلامی امارت ملاتړ څرګند کړ.

د غونډی په پای کی په کندهار کی د ملګرو ملتو د سازمان د عالی کمیشنری د دفتر مسول شاغلی لیزلی د ملګرو ملتو سازمان د موسسو په نمایندګی خبری وکړی او د ماین پر خلاف د افغانانو مبارزه یی یوه اتلواله مبارزه وبلله او دغه راز ده د ماینونو د بیخی لمنځه وړلو په لاره کی د مبارزی د چټکتیا په لاره کی د ملګرو ملتو د سازمان د اړوندو موسسو د هر راز همکاری ژمنه وکړه.

دغه راز په غونډه کی د ماین په خلاف د افغانانو د مبارزی په ټولنی پوری د اړوندو موسسو چارواکو او د غونډی یو شمیر برخه والو په وارسره د موضوع په اړوند خبری وکړی.

در ایالت فلوریدا...

مجاز است یا خیر.

وزیر داخله ایالت فلوریدا با شمارش آراء با دست مخالفت ورزیده آنرا پایان یافته اعلام کرده است.

بگفته وي فقط باید آراء حساب شوند که از باشنده گان فلوریدا از خارج از آن ایالت میرسد.

طبق شمارش آراء که کنون حساب شده جورج دبلیو بوش کاندید حزب جمهوري خواه فقط سه صد راي بر حریف خود الگور از حزب دموکرات سبقت دارد.

پل کلنتن ...

اولین رئیس جمهور آنکشور است که بعد از جنگ ویتنام به ویتنام سفر میکند.

وزیر خارجه ویتنام گفت: بخاطر از بین بردن اثار جنگ از ایالات متحده امریکا تقاضاي پول بیشتر خواهد کرد.

نا گفته نماند که ایالات متحده امریکا با وصف کشتار بي رحمانه ویتنامي ها به شکل خفت باري شکست خورده بود.

د روسیی د کابینی په غونډه کی:

د میر د فضایی بیړی په هکله تصمیم ونیول شو

د بی بی سی راډیو د خبر له مخی روسیی تایید کړی ده چی د میر فضایی بیړی فضا ته د هغی له توغولو څخه څوارلس کاله وروسته د فبروری په میاشت کی په ارام سمندر کی راغورځوی.

دغه تصمیم د روسیی د کابینی په یوه غونډه کی ونیول شو.

پخوا ویل کیدل چی د میر بیړی به د توریستیکی استفادی لپاره د ځینو خصوصی کمپنیو په واک کی ورکړ شی.

د لبنان صدراعظم رفیق حراری:

د حزب الله د سازمان له رئیس سره خبری اتری وکړی

دبیروت څخه د ایرنا د خبری اژانس د خبر له مخی د لبنان صدراعظم رفیق حراری او د لبنان د حزب الله د سازمان رئیس سید حسن نصر الله تیره شپه په بیروت کی لیده کاته او خبری اتری وکړی

په دی کتنه کی دواړو خواوو د سیمی د حالاتو او سیاسی بدلونونو او دغه راز د لبنان د جنوب د ازادو شویو سیمو د بیا جوړولو د لارو چارو د ټنولو او د لبنان له محرومو سیمو سره د مرستی په باره کی خبری اتری وکړی.

یوی لبنانی ورځپانی د رفیق حراری له خولی ولیکل په دی کتنه کی د لبنان د دولت او د حزب الله د سازمان د اړیکو په ښېړنی سربیره د همکاری او تفاهم لپاره د یو چوکاټ د جوړولو په باب هم خبری اتری وشوی.

با حمله هلیکوپتر های رژیم صهیونیستی:

جنگ های خیابانی در سرزمینهای اشغالی ابعاد تازه بخود گرفته است

با حمله هلیکوپتر های رژیم صهیونیستی به خانه های فلسطینی ها جنگ های خیابانی در سرزمینهای اشغالی ابعاد تازه بخود گرفته است.

بگزارش آژانس خبری ارنا در پنجاهمین روز انتفاضه مردم فلسطین علیه رژیم اشغالگر اسرائیل از صبح دیروز تظاهرات و درگیریها با نیرو هاي اشغالگر در ساحل غربي و نوار غزه آغاز شده و مردم فلسطین تابوت هاي شهدا راه ازادي فلسطین را تشیع کردند.

طي روز گذشته نه فلسطیني در اثر حمله نیرو های [illegible] اسرائیل به تظاهرات مردمان بی دفاع و غیر مسلح فلسطین [illegible] شهادت رسیدند و در اثر حمله تانکهای اسرائیل بر منازل مسکونی [illegible] طب المانی [illegible] کشته و پنج نفر دیگر زخمی گردیدند.

د اسیا او د ارام سمندر د حوزی د اقتصادی همکاری د سازمان د غړو هیوادونو اتمه غونډه:

د یوی وینا په صادریدو سره پای ته ورسیده

د اسیا او د ارام سمندر د حوزی د اقتصادی همکاری د سازمان د غړو هیوادونو د مشرانو اتمه غونډه په [illegible] بروني [illegible] د یوی وینا په صادریدو سره پای ته ورسیده. [illegible]

پای [illegible] کی د یوی وینا په صادریدو سره پای ته ورسیده.

ددغی غونډی په اختتامیه وینا کی په ۲۰۰۱ میلادی کال کی د [illegible] سوداګری د سازمان په چوکاټ کی د تجارتی خبرو اترو په پیل باندی ټینګار وشو.

د اسیا او د ارام سمندر حوزی د اقتصادی همکاری د سازمان د غړو هیوادونو مشرانو په خپلی وینا کی د لګښت کونکو او تولیدونکو د اوږدی مودی ګټو پر بنسټ د تیلو د بازار د ثبات غوښتنه وکړه.

SHARIAT WEEKLY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملک	[illegible]	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR 150	SR 300
اروپا او امریکا	US$75	US$150